NHS

The Royal Wolverhampton
NHS Trust

# په وینه کې د پیدا شوي عفونت ازمایښت – د ځوانانو او پالونکو لپاره معلومات

د GEM مرکز

د عفونت مخنیوی په ټولو روغتیایي مرکزونو کې زیات لومړیتوب لري او هر څوک باید پکې ونډه ولري.

- د مهرباني له مخې خپل لاسونه څو ځلې د ۲۰ ثانیو لپاره د صابون او اوبو یا ضدعفوني کوونکو موادو باندې ومینځئ تر څو پاک کړل شي.
- که چېرته تاسې د نس ناستې، استفراغ، تبې یا کومې نورې تنفسي نښې نښانې لرئ یا هم د وجود حرارت مو پورته وي یا هم د خولې خوند یا د بویایي حس مو له لاسه ورکړی وي نو د مهرباني له مخې روغتون یا کوم بل روغتیایي مرکز ته مه ځئ او له ۱۱۱ څخه مرسته وغواړئ.
- خپل شاوخوا چاپېریال مو پاک او مرتب وساتئ.
- راځئ په ګډه سره کار وکړو تر څو عفونتونه له خپلو روغتونونو او د درملنې له کورونو څخه لرې وساتو.

له کوم ډاکټر سره چې مو نن ولیدل هغه درته وویل چې تاسې باید خپله وینه معاینه کړئ. د وینې له معایناتو څخه موخه د لاندنیو عفونتونو معلومول دي: د B هیپاټیټ؛ د C هیپاټیټ؛ د انسان د بدني مقاومت کموونکی وېروس (HIV) او سیفلیس. دا ستاسې لپاره ډېره مهمه ده تر څو پوه شئ چې ولې موږ غواړو تر څو تاسې دا معاینات وکړئ خو بیا هم دا ستاسې خپل تصمیم دی چې ایا غواړئ د وینې معاینه مو وکړئ که نه.

## څرنګه کېدای شي چې ما دې دا عفونتونه تیر کړي وي؟

دا ډول عفونتونه ټول کېدای شي له یوه کس څخه بل کس ته سرایت وکړي. دا عفونتونه کېدای شي له یوې مور څخه د هغې نازېږول شوې ماشوم ته تیر شي. ځینې ماشومان د مور له نس څخه عفونت لرونکي دنیا ته راځي او دوی تر هغه مهاله پورې ترې خبر نه وي تر څو چې کله ښه زاړه شي.

ستاسې ډاکټر ښايي دا فکر وکړي چې تاسې د عفونت له خطر سره مخامخ یاست ځکه چې تاسې د نړۍ د هغې برخې نه یاست چیرته چې عفونتونه پکې ډېر عام دي. انګلستان ته د سفر په مهال ځینې ماشومان ځورول شوي وي یا هم ښايي له داسې شرایطو سره مخامخ شوي وي چې هلته يې دا عفونتونه تر لاسه کړي وي.

وروستی هم دا چې دا کېدای شي د جنسي اړیکو د لرلو له کبله رامنځته شي یا هم د وینې له لارې، د بېلګې په توګه که چیرته تاسې د یوه بل هغه کس چې دا عفونت لري د هغه پیچکاري وکاروئ نو دا عفونت به تاسې ته هم درشي.

## زما لپاره د دې کار ګټه څه ده تر څو وموم چې ایا زه عفونت لرم که نه؟

زیاتره خلک کوم چې دا عفونتونه لري، په تیره بیا که چیرته هغوی له دې عفونتونو سره یو ځای پیدا شوي وي، هغوی به خپل ځانونه د اوږدمهال لپاره ډېر فیټ او صحتمند احساس کړي. که څه هم دا عفونتونه به هغوی ته لا اوس هم زیانونه رسوي. دا هم امکان لري چې یو ا نسان کېدای شي په ورته وخت کې له یوه څخه زیات عفونتونه ولري.
ټول عفونتونه هم نشي درملنه کېدای، خو د درملو کارول دومره کولای شي چې ستاسې ناورغۍ له بدتر کېدو څخه وساتي او خلک روغ رمټ وساتي. له درملنې او څارنې پرته، دا ټول عفونتونه کولای شي خلک ډېر سخت ناروغ او هان ووژني.

د HIV درملنه کې اوس ډېر زیات ښه والی رامنځته شوی دی او اوس مهال دا ممکنه ده تر څو یو کس اوږد عادي ژوند ولري او هغه ښځې چې د HIV وېروس لري او غواړي چې ماشومان دنیا ته راوړي نو کولای شي ماشوم يې له همدې وېروس څخه په امان کې واوسي.

دا هم ډېره مهمه ده تر څو پوه شئ چې تاسې عفونت لری، تر څو وړاندې له دې چې هغه نورو خلکو ته در څخه سرایت وکړي، مخه يې ونیسئ.

## عاینات به څرنګه تر سره کېږي او څوک پوهیږي چې ایا زه عفونت لرم نه؟

ستاسې وینه به د یوې ستنې په مټ ستاسې له څنګل څخه واخیستل شي. دا کار د یوه فلیبوټومیسټ (هغه کس چې د وینې معاینات تر سره کول يې دنده ده) له خوا تر سره شي چې د معایناتو پایله معمولاً په دریو اوونیو کې دننه راوځي.
هغه ډاکټر چې تاسې نن ورسره ولیدل هغه به تاسې سره اړیکه ونیسي. که چیرته د وینې معایناتو وښوده چې تاسې کوم عفونت نه لرئ، نو تاسې ته به یو لیک واستول شي. په غیرصورت کې به تاسې ته یو بل اپاینټمنټ درکړل شي تر څو د معایناتو د پایلو په اړه بحث وشي.

ستاسې د وینې د معایناتو پایلې به تاسې او ستاسې کورني ډاکټر ته او همداشان هغو ډکترانو ته ورکړل شي کوم چې له تاسې سره به دهمدې عفونت په درملنه کې مرسته وکړي. په دې اړه به بل هېڅچا ته خبر ور نه کړل شي، خو که چیرته تاسې په خپله وغواړئ. دا ډېره مهمه ده چې تاسې به د خپلې روغتیا د ساتنې په برخه کې مرسته له ځان سره ولرئ تر څو وکولای شئ خپله موضوع له یوه بالغ کس سره چې تاسې پرې باور لرئ ورسره بحث وکړئ.

## به وشي که چیرته زما په وینه کې یو له دغو عفونتونو څخه موجود ؟

تاسې به د یوه متخصص ډاکټر له خوا وکتل شئ. هغوی به تاسې ته د هغې درملنې په اړه چې تاسې ورته اړتیا لرئ، خبرې وکړي او تاسې ته به ستاسې د روغتیا د منظم معایناتو لپاره لارې چارې سمبال کړي.

## ې هر یوه عفونت په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره دا برخه ولولئ:

### هیپاټیټ وېروس څه شی دی؟

د B هیپاټیټ هغه وېروس دی چې پر ځېګر باندې اغیزه کوي. دا وېروس ځېګر زیانمنوي او ټپي کوي يې او په ځینو خلکو کې د ځېګر د سرطان د رامنځته کېدو لامل ګرځي.

### هیپاټیټ وېروس څه شی دی؟

د C هیپاټیټ یو بل هغه وېروس دی چې کولای شي ځېګر زیانمن کړي. په زیاترو خلکو کې د ځېګر خرابوالی ډېر خفیف وي، خو په ځینو خلکو کې د هغوی ځېګر ته جدي زیان رسوي یا هم د هغوی په پاخه عمر کې د سرطان لامل ګرځي.

### HIV څه شی دی؟

HIV هغه وېروس دی چې د بدن پر دفاعي سیستم باندې کوم چې له عفونتونو سره جګړه کوي (ایمني سیستم) بریدونه کوي. دا کار د دې لامل ګرځي تر څو له عفونتونو سره جګړه کوونکی صحتمند بدن نور له کاره ولویزي.

# سیفلیس څه شی ده؟

سیفلیس هغه باکترياېي عفونت ده چې د جنسي اړیکې لرلو له کبله او یا هم له هغې مور څخه چې دا عفونت ولري د امېندوارتيا په مهال د هغې ماشوم ته لېږدول کېږي. په لومړي سر کې دا ناروغۍ د ټپونو او د پوستکي د بثوراتو لامل ګرځي او انسان ورسره د نارامي احساس کوي. که چیرته د دې ناروغۍ درملنه ونشي نو د وجود پر بېلابېلو برخو باندې اغیز کوي له هغې ډلې ماغزو باندې او کېدای شي د مړینې لامل وګرځي.

هغه ماشومان چې د سیفلیس له ناروغۍ سره پیدا شوي دي کېدای شي د هغوی د بدن زیاتره برخې له هغې ډلې ماغزه، هډوکي او غاښونه يې زیانمن کړي.

سیفلیس معمولاً په انټي بیوټیکونو سره درملنه کېږي.

که چیرته په بله لاره سره معلومات غواړئ لکه اسانه لوستل یا په کومه بله ژبه باندې، نو مهرباني وکړه موږ خبر کړئ.

که چیرته تاسې کوم ژباړونکی یا مرستې ته اړتیا لرئ، نو مهرباني وکړئ موږ خبر کړئ.

## Lithuanian

**Jeigu norėtumėte, kad informacija jums būtų pateikta kitu būdu, pavyzdžiui, supaprastinta forma ar kita kalba, prašome mums apie tai pranešti.**

**Jeigu jums reikia vertėjo ar kitos pagalbos, prašome mums apie tai pranešti.**

## Polish

**Jeżeli chcieliby Państwo otrzymać te informacje w innej postaci, na przykład w wersji łatwej do czytania lub w innym języku, prosimy powiedzieć nam o tym.**

**Prosimy poinformować nas również, jeżeli potrzebowaliby Państwo usługi tłumaczenia ustnego lub innej pomocy.**

## Punjabi

**ਜੇ ਤੁਹਾਨੂੰ ਇਹ ਜਾਣਕਾਰੀ ਕਿਸੇ ਹੋਰ ਰੂਪ ਵਿਚ, ਜਿਵੇਂ ਪੜ੍ਹਨ ਵਿਚ ਆਸਾਨ ਰੂਪ ਜਾਂ ਕਿਸੇ ਦੂਜੀ ਭਾਸ਼ਾ ਵਿਚ, ਚਾਹੀਦੀ ਹੈ ਤਾਂ ਕਿਰਪਾ ਕਰਕੇ ਸਾਨੂੰ ਦੱਸੋ।**

**ਜੇ ਤੁਹਾਨੂੰ ਦੁਭਾਸ਼ੀਏ ਦੀ ਜਾਂ ਸਹਾਇਤਾ ਦੀ ਲੋੜ ਹੈ ਤਾਂ ਕਿਰਪਾ ਕਰਕੇ ਸਾਨੂੰ ਦੱਸੋ।**

## Romanian

**Dacă aveți nevoie de informații în alt format, ca de exemplu caractere ușor de citit sau altă limbă, vă rugăm să ne informați.**

**Dacă aveți nevoie de un interpret sau de asistență, vă rugăm să ne informați.**

## Traditional Chinese

**如果您需要以其他方式了解信息，如易读或其他语种，请告诉我们。**

**如果您需要口译人员或帮助，请告诉我们。**

ډیزاینر او پروډیسر: Department of Clinical Illustration, New Cross Hospital, Wolverhampton, WV10 0QP ټلیفون: 01902 695377.